DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۶۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د القاعدې د تاریخ په اړه نوی فلم جوړېږي

دا نوې فلم د اوسکار د جایزې دګټونکې الیکس جیبني له خوا جوړېږي او تر ډېره هڅه شوې ده، چې د القاعدې ریښې او هغه لاملونه په ګوته کړي، چې ولې پر متحدو ایالاتو برید وشو. د فلم نوم (له القاعدې سره زما سفر) نومېږي او د لومړي ځل لپاره د تریبیکا سینمایي فیستوال کې ننداري ته وړاندې کېږي. امریکایي لیکوال لورانس رایټ هڅه کوي، چې د القاعدې تاریخي شالید او بنسټپالنه راوڅېړي. نومورې وایي مور القاعده پېژنو، ډار پېژنو، ګوابښ پېژنو، خو دا نه پېژنو، چې ولې داسې وشول او څرنګه؟!

جیبني وایي د القاعدې پلټنه دومره اسانه هم نه ده، لکه څرنګه **۳مـخ**

لسم کال - دویمه دوره، ۷٦٤ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۳۱ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوایي ۷ مه - د سه شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۱۳ مه ۲۰۱۰ د اپریل ۲۷ مه

محمد یونس قانونی رییس ولسی جرگه:

به هیچ وجه قانون جدید انتخابات را نمی پذیریم

شماری از اعضای ولسی جرگهء افغانستان که خواهان کاندید شدن دوبارهء شان در انتخابات ولسی جرگه هستند، می گویند که با وجود تنش ها میان ولسی جرگه و حکومت، آنها در پروسهء ثبت نام کاندیدان که از یک هفته به این سو آغاز شده است، اشتراک می کنند. اعضای ولسی جرگه دیروز بار دیگر روی جنجال ها بر سر فرمان تقنینی تازهء رییس جمهور کرزی در مورد قانون انتخابات، بحث کرده و گفتند که به هیچ وجه این قانون را نمی پذیرند.

پس از بحث ها و نظریات متعدد نماینده گان مردم، محمد یونس قانونی رییس ولسی جرگه گفت که اشتراک در پروسه ثبت نام صحه گذاشتن روی فرمان تقنینی تازهء رییس جمهور در رابطه به قانون انتخابات نیست.

آقای قانونی در ادامه گفت:

« کسی که ثبت نام کرده، ثبت نام به معنی صحه گذاشتن به فرمان تقنینی رد شده نیست، یک ضرورت است که وکلا این را درک می کنند.» این اظهارات در حالی مطرح می شود که هنوز تنش ها میان حکومت و ولسی جرگهء افغانستان بر سر فرمان تقنینی رییس جمهور کرزی ادامه دارد.

ولسی جرگه افغانستان روی فیصلهء قبلی خود تاکید داشته و می گوید که این فرمان به اکثریت آرا از سوی این جرگه رد شده، اما حکومت و کمسیون مستقل انتخابات افغانستان می گویند که انتخابات ۲۷ سنبلهء ولسی جرگه را بر اساس فرمان تقنینی تازهء رییس جمهور برگزار می کنند.

در عین حال پروسهء ثبت نام کاندیدان انتخابات ولسی جرگه که از ۳۱ حمل آغاز شده است، شماری از اعضای ولسی جرگه برای کاندید شدن **ص۳**

طالبانو د غویي کودتا او په کندوز کې د زده کوونکو نجونو مسمېدا وغندله

وسلوالو طالبانو د ۱۳۵۷ د ثور د اوومې نېټې کودتا او په کندوز کې د ښوونځیو پر نجونو زده کوونکو وروستي حملې وغندلې.

وسلهوالو طالبانو په یوه اعلامیه کې، د ثور کودتا په افغانستان کې د درېیو لسیزو د ناورین پیلامه او د تېرو نظامونو د بې غورۍ او غیراسلامي پرېکړو نتیجه بللې ده.

طالبانو په خپله اعلامیه کې خپل اوسني دښمنان هم بې برخې نه دي پرې ایښي او ویلي یې دي، چې «دغه کرغېړنه کودتا اصلا د نړۍ د دوو بلاکونو، یاني کمونیزم او کپیټالیزم د هغې سیالۍ برخه وه، چې هر یوه غوښتل د هند د سمندر ګرمې اوبه اود خلیج د تیلو منابع تر خپلې سیمې لاندې راولي. د همدې مقصد لپاره دوی غوښتل افغانستان اشغال کړي او اسلامي هویت او ملي حاکمیت یې له منځه یوسي. د هغوی داخلي ګوډاګیانو خلقیانو او پرچمیانو هم د کور، کالي، ډوډۍ تر غولوونکو شعارونو لاندې ورسره مرسته کوله.»

د طالبانو په اعلامیه کې همدا راز ویل شوي: «امریکایانو هم د پخوانیو شورویانو په ښېر، په زرګونو افغانان شهیدان او په ګوانتانامو، بګرام، کندهار او نورو پټو زندانونو کې یې اسیران کړل او په اصطلاح له تروریزم سره د جګړې په نامه یې د ټولو انساني ارزښتو په خلاف **۳مـخ**

در حاشیهٔ سخنان اخیر منشی عمومی ناتو،

ناتو این روزها بیشتر سیاسی است تا نظامی

به دنبال تشریک مساعی صلجویانهٔ سازمان ملل متحد برای تماس با مخالفان و مساعی دولت افغانستان برای پیشبرد برنامهٔ آشتی ملی، این برنامه از سوی مقام های کاخ سفید رد شده و اتموسفیر فعلی از نظر آنها برای انجام مذاکرات مساعد و مثبت تعریف نشد، لحن مقام ها و سخنگویان پیمان نظامی ناتو نیز تغییر کرد.

اندرس فوگ اسموسن منشی عمومی سازمان ناتو در کنفرانس وزرای خارجهٔ کشورهای این پیمان گفت: ناتو در نظر دارد، خروج بعضی قطعات خود را از افغانستان به گونهٔ تدریجی آغاز نماید و مسوولیت امنیت را در مناطقی که ایجاب کند، به سربازان افغان برگرداند. این همان خطوط و برنامه یی است که آقای اوباما پس از سپری شدن سه ماه نخست دورهٔ کاری و ریاست جمهوری خود اعلام داشته بود و خروج اولین دسته از سربازان امریکایی را در پایان سال ۲۰۱۱ وعدهٔ داده بود، اما موضعگیری های وی نشان داد که راهکار اصلی کاخ سفید تاکید روی گزینهٔ جنگی و نظامی گری است و این حرف ها و اعلامیه ها تلاشی است، برای سرپوش گذاشتن سیاسی روی نیات نظامی.

سران کاخ سفید و ناتو امروز به مارکیت افکار جهانی که سراسر خواهان حل مشکلات از راه دیالوک و تفاهم ملی و بین المللی است، وقعی نمی گذارند: امروز میلیون ها انسان در برابر کاخ سفید در جاده **ص۳**

که ډېره او پګړۍ د طالب نښه وي، نو...!

داسې ورځ به نه وي، چې په هېواد کې، په ټېره بیا په پښتني سیمو کې په لسګونو کسان د مرګ تر کومې نه تېر پرې. هره ورځ د رسنیو سرټکي د مرګ ژوبلو خبرونه جوړوي. اوس د هېواد پښتني سیمې هره ورځ له مرګ سره لوبې کوي، مرګ یوه توده لوبه ګرځېدلې ده او پښتني سیمې د دې لوبې میدان یا لوبغالی ګرځېدلي. هره ورځ په دې سیمو کې افغان او په ټېره بیا نړیوال ځواکونه د طالب په نامه ولسي وګړي په نښه کوي، په اصل کې دوی هره ورځ ولسي وګړي وژني. په دې اړه به د موضوع د کره والي لپاره ووایو،، چې څه موده وړاندې د شپې مهال د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ په ډاګو کلي کې امریکایي پوځیانو د ملامحمد عمر میاخېل کور په نښه کړ او ۱۳ تنه ولسي وګړي یې په کې شهیدان کړل، په دغو کسانو کې یو تن بزګر هم و،، چې د شپې له خوا یې خپل پټي او به کاوه. همداشان دې ته ورته څه موده مخکې امنیتي چارواکو د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې د ۲۷ تنو طالبانو د وژلو ادعا کړې وه، خو هغه مهال د سیمې اوسېدونکو د ۱۵ تنو ولسي وګړو د وژنې ادعا کوله، مګر امنیتي چارواکو دا ادعا رد کړې وه. دا خو د ولسي وګړو د وژنې د لړۍ دوې وړې او د دې څو ورځو نمونې وې،، چې یادونه یې وشوه. همداشان د ولسي وګړو د وژنې په اړه باید ووایو،، چې هره ورځ او په هر ځای کې، چې افغان او ناټو ځواکونو عملیات کړي، نو تر ډېره یې ولسي وګړي هم په نښه کړي دي. که، چېرې د هېواد د سوېلي سیمو حالت له نړدې وکتل او وڅارل شي، نو هلته به بیا څرګنده شي،، چې دوی طالبان وژني او که ولسي وګړي؟. دوی تل ادعا کوي،، چې مور طالبان وژلي، خو کله د سیمې له خلکو وپوښتل او د پښې سمه پلټنه وشي، نو دوی تر ډېره ولسي وګړي وژلي وي. په دې ورځو کې د مارچ په عملیاتو کې هم د نړیوالو ځواکونو له خوا ملکي وګړي په نښه کېدل، په یادو عملیاتو کې هم زښت زیات ملکي وګړي ووژل شول،، چې کره شمېر یې د رسنیو تر شمېر ځو ځلې زیات و. په دې عملیاتو کې هم د هوایي بریدو او هم د ځمکنیو بریدونو په ترڅ کې هغه کسان په نښه کېدل،، چې هغوی به ډېرې او پګړۍ د لرې دوې وړې او همداشان پر هغو کور نو باندې هم بمبار **۳مـخ**

منډوخېل:

په پښتنو سیمو کې ناامني نړیوالو جاسوسي شبکو رامنځته کړې

که په سیمه کې فعالې جاسوسي شبکې وغواړي، چې ترهګري له سیمې کمپله ټوله کړي، نو یوه ورځ وخت به هم وانه خلي

د پاکستان د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مرستیال او د دې هېواد د سنا غړي عبدالرحیم منډوخېل وایي، چې د پښتنو په سیمه کې ناامني استعمارګرو نړیوالو جاسوسي شبکو رامنځته کړې ده.

نومورې دا څرګندونې د غوایي پر ۶مه، کابل ته د خپل سفر په وروستۍ ورځ وکړې. منډوخېل او د یاد شوي ګوند سکرتر جنرال اکرم شاه دوري پر ۲۹مه، کابل ته راغلي وو.

منډوخېل د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو ته روانې نا امنۍ او جګړې یادې او زیاته یې کړه: ((که په سیمه کې فعالې جاسوسي شبکې وغواړي، چې ترهګري له سیمې کمپله ټوله کړي، نو یوه ورځ وخت به هم وانه خلي.)) خو ده د یادو شویو جاسوسي شبکو نوم وانه خیست. هغه زیاته کړه چې د ۱۳۸۶ کال د زمري پر ۱۸ مه، په کابل کې د امن په ګډه جرګه کې د افغانستان او پاکستان حکومتونو پرېکړه وکړه، چې له سیمې څخه به د ترهګرۍ جړې باسي او همدا راز پر ۱۳۸۸ کال کې د پاکستان پارلمان پرېکړه وکړه، چې په هېواد کې یې تر ټولو زیات خطر ترهګري ده، چې باید له منځه یوړل شي. د ده په وینا، د دواړو غونډو پرېکړې هم د جاسوسي شبکو له خوا د قومي مشرانو په وژلو سره، چې په افغانستان او پاکستان کې یې شمېر نږدې ۶۰۰ تنو ته رسېږي، ناکامې شوې. هغه زیاتوي: ((پښتانه د ترهګرو او یرغل کوونکو له خوا یرغمل شوي او پښتانه باید دوست او دوښمن وپېژني.)) ده وویل چې د پښتنو په سیمه کې د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره باید د سیمې دولتونه، ګوندونه او ولسونه یوبل ته لاسونه سره ورکړي. منډوخېل زیاته کړه: ((اوس د ولسونو ذمه واري ده، چې د بهرنیو ترهګرو پر وړاندې پاڅون وکړي، هغوی له منځه یوسي او خپله سیمه له بهرنیانو څخه خلاصه کړي.)) منډوخېل، افغانستان ته د خپل سفر موخه د سولې د ملي مشورتي جرګې او د سیمې له وروستیو حالاتو څخه د څان خبرول وبلل.

تاکل شوې وه، چې د سولې ملي مشورتي جرګه په هېواد کې د سولې د ټینګښت په موخه په کابل کې د غویي پر ۱۲مه، جوړه شي، خو له دوو تر درېیو اونیو پورې وځنډېده.

د پڑواک د راپور پر بنسټ، د تېرې پنجشنبې په ورځ د پاکستان د عواملي نشنل ګوند دوه لوړپوړي غړي افضل خان لالا او عبدالطیف افرید هم کابل ته راغلي

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

خاطرهٔ گلگون کفنان راه حق گرامی باد

در تاریخ پرنشیب و فراز افغانستان روز هـای فراموش ناشـدنی فراوانـی وجود دارد که تذکر بعضی از ایـن روز هـا سـبب تـاثر و تـالم ویـاد آوری بعض روز های دیگر باعث ایجاد فرحت و افتخار هموطنان می گردد کـه از آنجمله یکی هم هفت ثور است که روز سیاه و ننگینی در تاریخ ایـن کـشور محسوب می شود. سیاه کاری دشمنان دین، خاک، وطن و فرهنگ این کـشور هر گز فرامـوش خـاطر سـاکنان ایـن سـرزمین نمـی گـردد، چنانچـه ملـت سلحشور و شجیع ایـن کـشور هیچگـاهی و در هـیچ شـرایطی اسـارت را نپذیرفته و در مقابل هر نوع استعمار و استثمار مبـارزه و فـداکاری نمـوده اند که تاریخ پر افتخار کشور ما مبین این واقعیت است اینبار نیـز در مقابـل توطیه های محیلانه، دسایس مغرضـانه، حمـلات مخربانـه و کـشتار هـای بیرحمانهٔ متجاوز ابر قدرت شرق قد علم نموده و با فدا نمـودن جـان و مـال خویش در برابر دشمنان اسلام و فرهنـگ اصـیل افغـانی جهـاد، مقاومـت و مبارزه را آغاز نمودند. سنگر های مقاومت را با آتش عشق به یکتـا پرسـتی و حب وطن دوستی و نفـرت و انزجـار علیـه الحـاد و کمونیـستی وظلـم و استبداد حکومت های دست نشانده شان گـرم و گـرم تـر نمودنـد تـا اینکـه جویبار خروشان خون شهیدان راه حـق در اطـراف و اکنـاف کـشور جـاری گشت، گل های اتشین لاله در قبور گلگون کفنـان راه آزادی کـه در راه حفـظ کرامت انسانی جان های شیرین خود را نثار کرده بودند، روییـد، قلـب هـای مادران داغدیده به مرگ جگر گوشه های شـان داغـدار گردیـد، دسـتان تـازه عروسان بخون عزیزان شان گلگون گشت، قامـت رسـای پـدران بـه سـوگ فرزندان رشید شان خمیده گردید، دردشت و دمن این مامن زیبا بجای گلهـای ارغوان و نسترن گل یاس و ناامیدی رویید، تپه هـا و کـوه پایـه هـای ایـن سرزمین به گور های دسته جمعی مبدل گـشت، فـضای نیلگـون کـشور بـا شعله های آتشین بمب های خوشه یی و ناپالم چشمان وحشت زده ساکنان این کشور را خیره ساخت، از گوشه و کنار این خطه باسـتانی بـوی بـاروت بمشام میرسید و غرش و دود تانک ها نفس را در سینه ها خفه می نمود.

وجب وجب این خاک به میدان مبارزه دلیر مردان ومبارزان راه حـق و آزادی مبدل گشته بود و از در ودیوار نعره های کفر شکن الله اکبر چون سنان زهـر آگین قلب دشمنان اسلام را می شکافت و خواب را بـه ایـشان حـرام سـاخته بود. تا اینکه ۱۴ سال بعد این همه ویرانی ها و تباهی هـا مجاهـدان سـر بـه کف و مبارزان راه حق به یمن بازوان توانای خویش قشون سرخ را به زانـو در آورده و به ترک این خاک که انرا جـز قلمـرو خـود تـصور مـی نمودنـد، مجبور ساختند و بساط کمونیزم را که خود را ابر قدرت منطقه و جهـان مـی شمرد، برچیدند و ارزوی دیرینه را کـه تـسلط ایـن سـرزمین دلیرمـردان و سلحشوران بود با خود به گور بردند و سرزمین افغانـستان بـه گورسـتان کمونیزم مبدل گشت. البته این پیروزی به بهای خون میلیونها انسان فـداکار، با شهامت و ایثار گر این سرزمین به دست آمد تا بیرق ظفر مندی را در تـاق ظفر این کشور به اهتزاز در آورند. حال به پیروان راه حق و جوانـان بـا درد و با احساس این کشور است تا ایـن بیـرق پیـروزی را بـا بـازوان توانمنـد خویش با یکدلی و یکرنگی دور از تعصبات مـذهبی و فرقـه یـی در اهتـراز نگهدارند. ارواح شهدای راه حق شاد و راه آزادی خواهی متداوم باد

امنیت ولې خراب دی؟

محمدحسن حقیار



د کورنیو چارو وزارت ویاند وایي، چې امنیت ځکه خراب دی، چې مخالفین د پولیسو په نسبت ښه او زیات مجهز دي، هغوی ښې مدرنې وسلې لري، چې هدف له لرې ویشتلای شي؟

ایا دامنیت د خرابوالي یواځینی لامل همدادعوه کېدلای شي او که نور لاملونه هم لري؟ له شک پرته، چې د ناامنۍ لاملونه نور دي، چې دلته یې ځینو ته ګوته نیسو.

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، ټول افغانان په کې په مساوي ډول داوسېدلواو ژوند کولو حق لري. د دې هېواد پروړاندې، چې کوم مسؤولیتونه او مکلفیتونه دي هغه هم ټولو افغانانو ته په مساوي ډول راجع کېږي او که کوم امتیازات او حقوق لري، نو هم ټول افغانان په کې په برابره توګه ونډه لري.

دایو حقیقت دی، چې د افغانستان جوړښت قومي بڼه لري او په دودیزه توګه له پېړیو پېړیو راهیسې دا دود پالل شوی او هم دې دود پر افغانستان حکومت کړی او اوس هم باید د دې لرغوني او حاکم دود درناوی وشي. په افغانستان کې باید هېڅ قوم د بل قوم د فزیکي او معنوي حذف خیال پلو ونه خوري اونه دې د واک او ملي امکاناتو د انحصار فکر وکړي، خو له بده مرغه، چې په افغانستان کې ځینو ځان غوښتونکیو ډلو د خپلو وړیو هوسونو لپاره پر همدې خام تار پورې وترل، په واک یې خپله واچوله نور لوی لوی قومونه یې، چې تل یې د افغانستان تاریخ جوړ کړی دی، له واک او صحنې څخه لرې وساتل، چې په حقیقت کې پر واک انحصار او له نورو قومونو سره د ځینو اشخاصو د شخصي ګټو پر محور روانه دښمني د دې لامل شوه، چې په هېواد کې وینې تویې شي.

که څه هم اوس په هېواد کې دروان کړکېچ بنسټیز لامل د بهر نیو ځواکونو ناقانونه شتون دی، داسې شتون، چې هېڅ قانون نه مني او هر افغان هر وخت او هرځای کې وژلی شي. دا به سمه نه وي، چې که په هېواد کې د روان کړکېچ د پیل، چې شاوخوا ۳۲ کاله یې دوام وکړ، ټوله پره پر همدې انحصاري فکر ورواچوو، خو داسمه ده، چې همدا شوم فکر په دې

کړکېچ کې ډېره ونډه لري. دا ښکاره خبره ده، چې په افغانستان کې جنګبدونکي ټول ارخونه نور له جنګ څخه ستړي دي او ټول سولې ته لېواله دي او له دې سره سره، چې په دې وروستیو کې د سولې داعادې او سرتاسري امن د تامین لپاره هلې ځلې زیاتې شوې. دولتي چارواکي او د هېواد ملي او جهادي مشران په ګډه سلامشورې کوي، چې د سولې مشورتي جرګې لپاره لازم ترتیبات ونیسي اوجرګې ته وړاو مناسب شخصیتونه راوبولي، څوپه پایله کې ښې لاس ته راوړې ولري، خو بیا هم د سولې څرک نه ښکاري. څه موده مخکې د حزب اسلامي یو لوړ پوړی هیئت هم راغلی و، چې د حکومتي چارواکو ترڅنګ یې له جهادي مشرانو سره هم لیدنې کتنې درلودې.

ددې ترڅنګ ولسمشر ښاغلي حامدکرزی هم په دې وروستیو شپو ورځو کې په تکرار سره د طالبانو له مشر ملامحمد عمر څخه غوښتنه کړې ده، چې د جګړو او وژنو لاره پرېږدي او په بدل کې یې د خبرو اترو لاره غوره کړي او په دې وروستیو کې د ځینو غربي رسنیو په قول ملاعمر هم دې ته مایل شوی دی، چې مذاکراتو ته کښېني.

خوځومره، چې د سولې داعادې اوخبرو اترو لپاره هلې ځلې زیاتې شوي، په همغه اندازه او په هماغه تناسب په هېواد کې بې امني هم زیاته شوې ده.

د کورنیو چارو وایند خو وایي، چې مخالفان د پولیسو په نسبت ښه اوزیات مجهز دي، هغوی ښې مدرنې وسلې لري، چې هدف له لرې ویشتلای شي.

خوکارپوهان په دې نظر دي څوپورې، چې انحصاري فکر له منځه ولاړ نه شي، د ولس زړه خپل نه کړل شي، ولس ته کار او بوختیا ونه موندل شي، د هېواد د بیارغونې لپاره بنسټیز ګامونه وانه خیستل شي، له پولیسو سره د خلکو مرسته ملګرې نه شي، ترهغې پورې د بشپړ امن اعاده کول ناشونې ښکاري. له پولیسو څخه داهیله کېږي، چې دپېښو او عملیاتو په وخت کې له خلکو سره د ښو وطنوالو او ورونو په شان چلندوکړي اوپه خپلو کړو وړو سره داورته وښیي، چې په رښتیا سره پولیس د خپلې خاورې، وطن او د خپلې ټولنې خدمتګاران دي. دابه څوک څنګه ومني، چې مخالفان له افغان اردو ډېر مجهز دي؟ د اتومي ځواکونو په شمول د ټولې نړۍ هغه لوی نظامي او اقتصادي پر عصري تېکنالوژۍ مجهز د ۴۸ هېوادونو ځواکونه او حکومتونه د افغان حکومت ترشاه ولاړدي او مخالفان په ښکاره له چا یوه مرمۍ او یوه روپۍ هم غوښتلای نه شي، نو هغوی څنګه تر افغان ځواکونو ډېر مجهز شول؟ که چېرې پولیسو،اردو او د هغوی افسرانو وکړای شول، چې خپل ولس اوخلک د ځان ملګري کړي، نوبیا به تریوه حده د ناامنیو او په هېواد کې د نورو جنایتونو مخه هم ونیسي. اوس ترډېره حده ولس ځان له امنیتي ځواکونو پردی بولي، ځکه امنیتي ځواکونه ورسره د دوی د بچیانو او ورونو په څېر چلند نه کوي، بلکې ترډېره حده هرهغه افغان ته، چې د افغاني عنعناتواو دیني روایاتو مطابق ږیره یې پر ښې او لنګی او واسکټ یې اغوستی وي، د شک په سترګه ګوري. همدارازد پولیسو او اردو تشکیلات هم ترډېره حده افغانستان شموله نه دي او د یوه قوم او یوې سیمې اوسېدونکو پرې ترډېره حده خپله اچولې ده. د دې ځواکونو یوازې نوم ملي دی اوبس.

که داتشکیلات او تعینات رښتیا هم ملي وای، نو بیا به یې له شک پرته په ملت کې ځای و او، چې په ملت کې ځای ومومي، نو بیا به هېڅکله هم ناکامه او کمزوري نه وي او نه به نامني ډېره شي.

همداسې اوس د پلازمینې غوڅ امنیتي اجراییوي او قضایي واک له یوې ډلې سره دی او داهغه ډله ده، چې په جنګ او جګړو کې خپله بقا ویني، تل یې د ملت وینې څښلې دي او اوس هم پرې ماړه نه دي، نو ترڅو، چې داحالات وي، امنیت به څنګه شي؟! د ناامنۍ ټول عوامل همدا نه دي، بلکې له پیل کې مو چې وویل، دایې یوڅو وو.

هیله ده، چې چارواکي یې په ختمولو کې کوتلي ګامونه واخلي.

د خلکو پر اراده ولاړ نظام

ع. رحمن زلال

زمور اساسي قانون د همدې وران شوي هېواد د بیارغونې، د ولس د سوکالۍ او په هېواد کې د رښتینې ولسي واکدارۍ د جوړښت په اړه سترې او د اعتبار وړ وثیقه ګڼل کېږي. لکه څرنګه، چې د همدې اساسي قانون په سریزه کې په ډاګه څرګنده شوې،، چې زمور همدا اساسي قانون د خلکو پر اراده او دیموکراسۍ ولاړ نظام د تاسیس لپاره تدوین او د پلي کېدو ډګر ته سپارل شوی دی.

دلته مور د پام وړ یوې جملې سره مخ کېږو، هغه دا، چې ((د خلکو پر اراده او د دیموکراسۍ ولاړ نظام)) دا جمله که د شکل او بڼې له پلوه وګورو، نو دا هم د هغو جملو په لړ کې یوه جمله ده،، چې هره ورځ څو ځله زمور تر سترګو او غوږو کېږي. خو که نومورې جمله د هغه د څرګندونو او منځپانګې (محتوا) له پلوه په څېړنیز نظر سره راوسپړو، نو بیا همدا جمله ده،، چې زمور د ژوندانه په اړوند، زمور د ولس او زمور د همدې وران ټاټوبي د بیا جوړونې په اړوند زمور پر اوږو درانه بارونه راابردي. بېځایه به نه وي، که نومورې جمله، یانې د خلکو اراده او د یموکراسي، چې د اساسي قانون په سریزه کې یې یادونه شوې، په یوې ژورې څېړنې سره راوسپړو. څو په همدې سپړنې سره وکولای شو،، چې د خبرې مغز ته ځان ورسوو! مور په خپل ولسي فرهنګ کې یو متل لرو،، چې وایي ((د خلکو زور د خدای زور دی))

دا متل څرنګه تعبیرولای شو؟

الله پاک جل جلاله په خپلو مبارکو هدایاتو کې فرمایي،، چې که خلک پر یوه روا او مشروع لاره سره یو شي او د خلق الله د ښېګڼې لپاره اتحاد او اتفاق سره وکړي، زه د هغوی ملګری او له هغوی سره یم، دا نو هغه حالت دی،، چې د خدای جل جلاله زور د همدې خلکو له زور سره ملګری او د دوی زور د خدای جل جلاله په زور بدلېږي. همدا وجه ده،، چې زمور په اساسي قانون کې زمور د هېواد ملي حاکمیت ملت یانې خلکو او یا په بل عبارت هغه لوی ځواک ته ورسپارل شوی،، چې د رښتینولۍ، پر وطن او ولس باندې په زړه سوي او د هېوادني اتفاق او پیوستون په درلودلو سره یې زور د خدای په زور بدلېږي. لکه څرنګه، چې د اساسي قانون په (۴) مه ماده کې څرګندېږي،، چې ((په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري،، چې په مستقیم ډول یې په خپله یا یې د خپلو استازو له لارې عملي کوي)) په همدې اړه د نومورې قانون (۳۳) مه ماده حکم کوي،، چې ((د افغانستان اتباع د اانتخابېدلو او انتخابولو حق لري) زمور په افغانستان کې تقریبا (۳۰) میلیونه افغانان ژوند کوي،، چې همدغه (۳۰) میلیونه انسانان دي،، چې د دې هېواد ملت ترې جوړ او د همدې هېواد ملي حاکمیت ورپورې اړه لري او همدا ملي حاکمیت د همدې ملت څخه ساتنه، روزنه او سمبالښت غواړي،، چې دا واړه زمور دنده او **۳مخ**

در حاشیهٔ سخنان اخیر منشی عمومی ...

های واشنگتن، نیویارک، لندن، برلین و دیگر شهرهای غرب، باپلیت فارم ها و شعارهای رنگارنگ خواهان خروج سربازان شان از افغانستان می شوند، خواهان این می شوند که سربازان به کاشانه و کشور شان عودت نمایند؛ خواهان این اند که جهان پروسهٔ تفاهم دولت و مخالفان را یاری کند و مصارف کمرشکن نظامی را صرف بیکاری و گرفتاری های خود مردم این کشورها و از جمله صرف برنامه های بازسازی و خدمات بشری در افغانستان نمایند. مهم این است که اخلال پروژهٔ تماس و تفاهم در افغانستان توسط امریکا و ناتو به پرستیژ سازمان ملل متحد به عنوان یک مرجع با اعتبار حقوقی و بین المللی لطمه زده است. این حرکت و همچنان خاموش ماندن کارمندان سازمان ملل متحد در برابر جریانات اخیر گویایی آن است که سازمان ملل نیز، زیر یک نوع فشار است، تا خاموش بماند و از طریق این سکوت، پروسهٔ دوام جنگ و خشونت را که به هیچ وجه مورد قبول مردم افغانستان و جهان نیست، ادامه بدهد. خوب است پیمان ناتو به ارادهٔ مردم کشورهای مربوط خود شان و به خواست و ارادهٔ مردم افغانستان توجه داشته باشند؛ خوب است دولت و مردم افغانستان را برای رسیدن به دنبال آشتی و صلح و سلامتی یاری نمایند. حقیقت این است که مشکلات افغانستان به هیچ صورتی راه حل نظامی ندارد؛ منشی عمومی سازمان ناتو می گوید که می خواهند، امنیت را در نقاطی که ایجاب کند، به سربازان افغان محول کنند؛ باید از آنان پرسید کدام امنیت؟ امریکا و ناتو که نتوانسته اند در هیچ نقطه یی از افغانستان ظرف هشت سال تمام، امن بیاورند، پس چرا باری را که از راه خشونت و نظامی گری حل نشده می خواهند به سربازان افغان محول نمایند؟!

مولوی فریدون افراسیابی

که ډیره او پګړی د طالب نښه وي ...

کېده،، چې په هغو کې به د ډیرو او پګړی والا کسان زیات وو، یانې د کور د نارینه وو شمېر به زیات او دوی به په دې پلمه، چې ګویا په دې کور کې طالبان پټ وو، بمبار کاوه او په دې توګه به یې ملکي وګړي وژل. که د دود، اسلامي ارزښتونو او کولتور له مخې د پښتني سیمو د اوسېدونکو ظاهري حالت ته پاملرنه وکړو، نو پښتانه اکثره پګړی پر سر کوي او همداشان ږیرې پر ېږدي او بهرني ځواکونه هم هغه ځوک د طالب په نامه پېژني،، چې یا پګړی والي او اوږده ږیره ولري او په دې توګه د هغوی د له منځه وړلو هڅې کوي. دا هم د یادونې ده، ډېر ځله داسې پېښ شوي،، چې هغوی د طالب په نامه د ولسي وګړو کورونه پلټلي او په ډېره برېحمانه توګه یې هغوی وهلي او ټکولي هم دي او ان بندیان کړي یې هم دي او د خپلو غلطو او ناسمو راپورنو پر بنسټ یې ډېرې بېګناه ولسي وګړو ته زیان روسولی دی او په دې توګه یې د ولس کرکه او غوسه راپارولې ده او همدا لامل دی،، چې په سوېل کې حالات ورځ تر بلې د کړکېچ په لور روان دي او د عامه ذهنیت لوری د بدلون په حال کې دی. که، چېرې حالت همداسې دوام وکړي، هر ږیرور او پګړی والا ته طالب وویل شي، ووژل شي، وځورول شي، وکړول شي او بندي شي، نو باید ووایو،، چې پښتانه ټول طالبان دي، باید ټول ووژل او له منځه لاړ شي، ځکه پګړی او ږیره، چې د پښتنو اصیل اسلامي او کولتوري میراث دی، نو دوی هېڅکله هم دا میراث ته په سپکه نه ګوري.

(میوند)

د القاعدې د تاریخ په اړه نوی ...

چې فکر کېږي. د روهي وېښې له راپور سره سم، فلم درایټ په شتون په القاهرة کې پیلېږي او د ایمن الظواهري د ژوند لوړې او ژوړې رااخلي. الظواهري مصري ډاکتر دی او د القاعدې د ملا تېر دی. رایټ وایي: الظواهري پر ۱۹۸۴ ز کې له زندانه راووت، خو هلته یې ډول ډول کړاونه، د برېښنا شارټونه د سپیو دارل د ډېرو کلونو لپاره په سړه سینه وزغمل. دې کړاونو له نوموړي یو نه ماتېدونکی انسان جوړ کړ او د هرې ورځې په تېرېدو به یې د کسات هوډ لا پسې پیاوړی کېده، له دې ورسته فلم د اسامه د پلار لادن ژوند رااخلي، چې څرنګه یو یمنی غریبکار او مزدور په سعودي عربستان کې وپېژندل او بدایه ټیکه دار شو.

به هیچ وجه قانون جدید انتخابات ...

دوباره به این سمت خود را ثبت نام کرده اند.

فوزیه کوفی یکی از اعضای ولسی جرگه با وجودی که تاکید می کند تا انتخابات ولسی جرگه به اساس قانون قبلی انتخابات برگزار شود، خواهان بر طرف ساختن این مشکل از مجرای حرکت های مدنی است.

خانم کوفی در مورد گفت:

« حرکت های مدنی می تواند شامل بسته شدن دروازه پارلمان به رسم اعتراض و فرا خوانی مقام های سازمان ملل که در راس هستند و آنها تاکید به فرمان فعلی آقای کرزی دارند، می باشد. راه دیگر این است که فشار های مدنی از جوانب مختلف بالای حکومت وارد شود، ممکن است به تصامیم پارلمان احترام بگذارد.»

هفتهء گذشته ولسی جرگه هیاتی متشکل از اعضای این جرگه را توظیف کرد تا با رییس جمهور کرزی صحبت کرده و راه حل را پیرامون مشکل قانون انتخابات دریافت کنند. اما تا اکنون این هیات از جانب رییس جمهور پذیرفته نشده است. ازسوی دیگر کمسیون مستقل انتخابات افغانستان زمینهء ثبت نام برای اعضای ولسی جرگه را در کابل ایجاد کرده است، اما گفته می شود که به دلیل مشکلات تخنیکی برخی اعضای ولسی جرگه باید در ولایت های مربوطهء شان ثبت نام کنند.

په کندهار ښار کې دوې پرله پسې چاودنې شوې

په کندهار ښار کې پرون سهار دوو پرله پسې چاودنو یو تن ووژله او لږ تر لږه درې تنه یې ټپیان کړل. چاودنې د غویي پر شپږمه سهار شاوخوا اته بجې، د حضرت جي بابا په سیمه کې د پولیسو پر یوه رنجر موټر وشوې. د کندهار ولایت مطبوعاتي مسوول زلمي ایوبي له چاودنې څو شېبې وروسته وویل، چې د لومړنیو پلټنو له مخې، دغو چاودنو یو ملکي وګړی وژلی، دوه نور ملکي خلک او یو پولیس یې ټپیان کړي دي.

د هغه په وینا، لومړی د سړک د غاړې ماین چاودنه وشوه او بیا په موټر سایکل کې ځای پرځای شوي مواد وچاودېدل.

د میرویس روغتون یوه موظف ډاکټر پژواک ته وویل، چې دوی ته د چاودنې له ځایه درې ټپیان راوړل شوي، چې یو یې پولیس او دوه نور یې ملکي وګړي دي. د هغه په وینا، له دغو ټپیانو څخه د یوه حالت د اندېښنې وړ دی. د دغو چاودنو مسوولیت تراوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی.

د خلکو پر اراده ولاړ ...

زمور پر غاړه ده، ځکه نو مور ته له اړینو نه هم اړینه ده، بایده او لازمه ده،، چې متې راونغاړو ځودا دنده لکه څرنګه، چې غوښتنه کېږي، هسې سرته ورسوو، خو دا د متو رانغښته هسې نه ده، لکه د کلي حشر، چې ټول له یوه مخه یوم پر غاړه په ورګډ شو، بلکې دا یوه غښتلی او سنجول شوی نظم او انتظام ته اړتیا لري،، چې دا نظم او انتظام مور ته په اساسي قانون کې د ملي شورا په نامه سره پېژندلی شوی دی، ځو مور هغه ته خپل وړ استازي وټاکو او هغوی بیا هلته په ملي شورا کې زمور، یاني د خلکو د زرور او د خدای جل جلاله د زور په درلودلو سره زمور دا ملي حاکمیت سمبال او وساتي!

اوس خبره دا ده، چې هغه باید ځوک وي،، چې دا وړتیا ولري،، چې زمور د ملت په استازیتوب زمور د ملي حاکمیت د سمبالښت او ساتنې واک وروسپارل شي او وکولای شي، د هغه سمبالښت او ساتنه وکړي. هو دې خبرې ته ډېر باید ځېر و اوسېږو او ډېر دقت باید پرې وکړو، ځو دغه باور، چې مور یې پر چا باندې کوو او په شورا کې د استازیتوب لپاره خپله رایه هغه چاته ورکوو، ځو هغه زمور د همدغې رایې پر اساسي و شورا ملي (ولسي جرګه) ته د استازي په توګه وټاکل شي دا په اصل او حقیقت کې دالله پاک جل جلاله از در دربدلي، ځوربدلي، پر غمونو او ناخوالو لړلي ولس سره یوه معامله ده،، چې مور یې کوو، ځکه که دالله پاک (ج) څخه ډار او پردې غم لړلي ولس او وطن باندې زړ سوی راسره موجود وي، نو اړینه ده،، چې دا ځلې د ولسي جرګې ټول ټاکنو ته، چې ښایي په دې نږدې ځو میاشتو کې وشي خپلې تېرې ټولې توکمیزې، ژبنۍ، سیمه ییزې، مذهبي او ډلو ټپلو اندېښنې شاته وغورځوو او پر یوه وطني، ولسي او یو متې افغاني هوډ سره ملا وتړو او یوازې او یوزې دالله پاک جل جلاله رضا او د ولس ښېګڼه په دې لاره کې خپل د دې تکل ډیوه او سرلیک وګرځوو؟

د ملي شورا په ځانګړې توګه له راتلونکي ولسي جرګې سره د خپلې دنده ییزې وړتیا له مخې دا توان او قابلیت شته.. چې زمور دا د جنګ په لمبو کې لولپه شوی هېواد نور هم د کلونو کلونو لپاره د دې دوزخي جګړې په انګار کې راښکېل وساتي او یا یې هم له همدې خواري او بدبختي څخه په خلاصون سره د یو بسیا او روښانه سبا په لوري رهبري و رهنمایي کړي!

اوس نو پوښتنه دا ده،، چې څنګه کولای شو،، چې مور داسې یوه ملي شورا او په خانګړې توګه داسې یوه ولسي جرګه ولرو،، چې زمور دا د غمونو کور له دې راپېښې غمېزې څخه تر خپلو ګټو ړومبی راوژغوري، ځو د نړۍ د نورو انسانانو په څېر د خپل کور د ورانېدو پر ځای مور هم په خپله دا خپل وران کور بېرته جوړ او ودان کړو؟ ای زما ځور بدلی او کړېدلی وروره! ای زما دربدره او پر وطنونو ورک وطندارہ اوس دا پر ما او تا پورې اړه لري،، چې که زه او ته دا اوس بیا هم د ولسي جرګې په راتلونکو ټولټاکنو کې د خپل استازي د ټاکنو شرط یوازې او یوازې دا وټاکو،، چې هر ځوک او هم شي، چې وي، خو زما په ژبه او زما په قوم دې وي، دا به بیا هم هغه توره شپه نوره هم پر مور هسې راتپه تیاره کړي،، چې نور به لاهم ورور له وروره، عزیز له عزیزه او وطندار له وطنداره سر ورک او د پردیو په لومه کې د یو بل د وژنې لپاره سره راښکېل یو، خو که ما او تا له تېرو دردونو، غمونو، مرګونو او ناخوالو څخه عبرت اخیستی وي او د دې ټوټه ټوټه وطن، د دې دربدره او بېچاره ولس پر حال کوم زړه خوړی او احساس راسره موجود وي، راته ضرور او اړینه ده،، چې نور د میلمستیاوو د ډول ډول خوړو له مزو او د پلانکي خان او پلانکي صاحب له خوشحالېدو څخه تېر شو، پر ځان زحمت او تکلیف قبول کړو، په پاکو، ربښتینو، زړه سوانده او وطن او ولس ته په صادقو، وفادارو خدمتګار او هوډمن کسانو پسې وګرځوو. پیدا یې کړو، ملاتړ یې وکړو او د خپلو استازو په توګه یې وټاکو، نو هله به بیا دا هیله او امید راسره پیدا وي،، چې زمور د دې غمونو له کوره بېرته بیا د لوی ځښتن په توکل د لوی افغان د سرلوړي ژوندانه ویارلی تاتوبی جوړ شي! دا به نو هم هغه د خلکو پر اراده او دیموکراسي ولاړ نظام وي،، چې مور ته په اساسي قانون کې راپېژندل شوی او د ملت په اراده جوړ شوی نظام او واکداري به وي،، چې بیا به یې څوک د کم واکي او ورانې توان هم و نه لري.

هند و افغانستان به هم ...

گذشته علیه مواضع هندوستان در افغانستان، روابط میان دو کشور نیز، با تنش‌هایی روبه‌رو بود و دولت هندوستان از مقام های افغان خواست، تا توجه بیشتری به حفظ جان اتباع هندی در کشور، صورت گیرد. این در حالی است که در سفر اخیر حامد کرزی به هند نیز، این مسأله، از محوری‌ترین موضوعات قابل بحث خواهد بود.

اما نکتهٔ قابل توجه اینکه، افغانستان و هند، از توانایی‌های متفاوتی در مقابله با کارشکنی‌های پاکستان و گروه‌های تروریستی وابسته به این کشور برخوردار اند. هند کشور قدرتمندی در منطقه به حساب می‌آید که از قوت‌های لازم نظامی و اقتصادی برخوردار است، از این‌رو، این کشور از ظرفیت‌های بالایی برای مقابله با سیاست‌های خصمانهٔ پاکستان برخوردار است و همواره از موضع قدرت با این کشور سخن گفته است. ولی افغانستان، کشوری است که از لحاظ سیاسی، نظامی و اقتصادی، دارای ظرفیت‌های لازم نمی‌باشد و همواره در برابر پاکستان، موضع انفعالی و ضعیفی داشته است؛ از این‌رو، پاکستان و نیروها و گروه‌های وابسته به این کشور، به صورت گسترده در امور افغانستان مداخله نموده و موجب تداوم بی‌ثباتی‌ها در کشور هستند.

در این میان، ولی افغانستان به دلیل ضعف‌های مفرطی که در ساختارهای مختلف خود به خصوص در بخش سیاسی و نظامی دارد، نتوانسته خود را از رقابت‌هایی که به صورت جداگانه میان هند و پاکستان در جریان است، دور نگه دارد و در این تقابل، بیشترین ضرر و صدمه را به جای این کشورها متقبل شده است. به عبارت دیگر، صحنهٔ افغانستان در طول سال‌های گذشته، علاوه بر اینکه صحنهٔ تقابل میان افغانستان و پاکستان بوده، یک صحنهٔ بزرگ زورآزمایی میان هند و پاکستان نیز بوده که تاوان آن را افغان‌ها پرداخته‌اند. به هر حال، در شرایطی که در آستانهٔ سفر حامد کرزی به هند قرار داریم، حکومت افغانستان به خصوص دستگاه دیپلوماسی کشور باید به دنبال راهکارهایی باشد، تا از این طریق، از یکسو روابط دوستانه و گسترده‌یی با تمام کشورهای همسایه از جمله هند و پاکستان داشته باشد و از سوی دیگر، به این کشورها اطمینان دهد که نقشی در تقابل‌ها و نزاع‌های منطقه‌یی ایفا نمی‌کند و صرف به دنبال تأمین منافع ملی خود است. از این طریق، حکومت افغانستان باید خود را از صحنهٔ رقابت‌های منطقه‌یی و بین‌المللی موجود برهاند و قاطعانه از همسایگان خود نیز بخواهد که افغان‌ها را شریک دعوای خویش نسازند.

پی‌نوشت:

رادیو آزادی به نقل از خبرگزاری رویترز.

طالبانو د غویي کودتا او په کندوز کې ...

داسې جنایات ترسره کړل، چې د تېرو یرغلګرانو مخونه ور ورسپین کړل.» له بلې خوا د بریتانیا اندیپنډنټ ورځپاڼې پرون خبر ورکړ، چې وسلوالو طالبانو په کندوز کې د نجونود مسمول غندلې دي.

د تاند د راپور له مخې، له تېرې چهارشنبې راهیسې په درېیو جلا حملو کې د کندوز د درېیو ښوونځیوشاوخوا اتیا نجونې په یوډول ګازو مسموم شوې دي. تر اوسه هېڅ ډلې د دې کار مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی، خو دولتي مقامات او د کندوز ډېر اوسېدونکي ګومان کوي، چې دا کار طالبانو او یا د حزب اسلامي ډلې کړی دی.

خو پرون اندیپنډنټ ورځپاڼې د ذبیح الله مجاهد له قوله لیکلي، چې دوی دا برید نه دی کړی او په کلکه یې غندي.

د ماشومانو پر وړاندې زورزیاتی مخ په زیاتېدو دی

په افغانستان کې د ماشومانو د تښتونې، دوی په زوره په جرایمو کې ښکېلول، وړې نجونې په زوره ودول، پر دوی جنسي تېری کول او داسې نور، هغه پېښې دي، چې د پخوا په نسبت په وروستیو درېیو کلونو کې زیاتې شوې او یولړ اندېښنې یې پیدا کړي دي. داخړ ګندوني د دوشنبې پر ورځ د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې، د سې پن یاد ماشومانو د خوندیتوب د موسسې په درې کلن راپور کې ذکر شوې وي. د کار او ټولنیزو چارو د وزارت د ماشومانو د خوندیتوب د شبکې مسوول اسدالله حبیب، د ماشومانو څخه د ناوړه ګټو اخیستو د پېښو د زیاتوالي په هکله ازادي راډیو ته داسې وویل: "په دوه زره اووم کال کې پنځه سوه، په دوه زره اتم کې یوزر وځلور سوه نهه پنځوس او په دوه زره نهم کال کې دوه یوسلو څلور شپېته پېښې راجستر شوې دي. په دې پېښو کې زمور د کار کوونکو فعالیتونه هم رول لري، ځکه چې ډېرې پټې پېښې یې کشف کړې دي." ښاغلي حبیب وویل، د سې پن د موسسې مرکزونه د هېواد په اته ویشتو ولایتونو او یو پنځوس ولسوالیو کې فعالي دي او په کلیو او بانډو کې د خلکو، مدني ټولنو د بشر د حقونو د سازمانو او دولتي ارګانونو په مرسته پېښې پلټي او راپور یې مربوطو ارګانونو ته سپاري. حبیب داهم وویل، دا راپور د دوی د فعالیتونو لپاره یوه ګټوره تجربه ده او په وروستیو پلانونو کې به هڅې وکړي، چې پېښې په لادقت وپلټل شي او له مجبورو ماشومانو سره لازمي مرستې وشي: "سې، پن، له دولتي او غیر دولتي ارګانونو څخه جوړه موسسه ده، د دې ټولو ارګانونو هیله ده، چې چارې په ښه توګه پرمخ بوځي، تر څو دغه ستونزه کمه شي." مسوولینو وویل، د ماشومانو پر حقونو، ناپوهي، اقتصادي ستونزې، ناوړه دودونه او ناامنۍ هغه لاملونه دي، چې د هېواد لسګونو زرو ماشومان یې بدمرغه کړي دي. د سې، پن موسسه دامریکا د متحدو ایالاتو په مالي مرسته د ملګرو ملتو د یونیسف دادارې په همکارۍ له څلور کالو راهیسې په هېواد کې فعالیت کوي. له مستحقو ماشومانو سره مرستې کوي او د کار زمینې هم ورته برابروي. خو خنک وایي، اوس هم د هېواد په هره سیمه په زرګونو داسې ماشومان شته، چې د ژوند له ټولو نېکمرغیو بې برخې او د زورزیاتي له ګوابنو سره مخ دي. دوی هیله ښیي، چې دولت او بهرني موسسې دې د دوی له کورنیو سره مرستې وکړي، خو د غه ستونزه کمه شي.

در آستانهٔ سفر رییس جمهور کرزی به هند،

هند و افغانستان به هم نزدیکتر می‌شوند!

نویسنده: عباس حسینی

صحنهٔ افغانستان در طول سال‌های گذشته، علاوه بر اینکه صحنهٔ تقابل میان افغانستان و پاکستان بوده، یک صحنهٔ بزرگ زورآزمایی میان هند و پاکستان نیز بوده که تاوان آن را افغان‌ها پرداخته‌اند.

حامد کرزی، دیروز طی سفری رسمی و به دعوت صدراعظم این کشور، به دهلی جدید سفر کرد، تا با مقام های بلندپایهٔ این کشور، دیدار و گفتگو نماید. افغانستان و هند در طول سال‌های گذشته، روابط گسترده و دوستانه یی داشته‌اند و این کشور، نزدیک به دو میلیارد دالر را به بازسازی افغانستان اختصاص داده است. علاوه بر آن، ده‌ها تبعهٔ هندی، در پروژه‌های بازسازی کشور به خصوص در بازسازی مسیرهای ترانزیتی، با افغانستان همکاری می‌کنند.

اما این گسترده گی روابط میان دو کشور، بیش از اینکه روابط تعریف شده یی باشد، ناشی از یک مسأله است و آن، اینکه دو کشور دارای رقیب و دشمن مشترکی به نام پاکستان می‌باشد که این کشور، به دلیل مشکلات سرحدی که با همسایه گان خود دارد، از بدو تأسیس همواره به دنبال برهم زدن اوضاع در هند و افغانستان بوده است. پاکستان به لحاظ خط سرحدی کشمیر با هند و دیورند با افغانستان، دارای مشکلات فراوان و تاریخی است و از آنجایی که خود زاییده‌یی از این دو کشور بوده و دارای مولفه‌های استراتژیک نمی‌باشد، همیشه سعی نموده حیات سیاسی و اقتصادی خود را با مداخله و برهم زدن اوضاع کشورهای همسایه خود، به دست آورد. به این لحاظ، این کشور با وجود همسایگانی چون هند و افغانستان، موقعیت استراتژیکی یافته و مورد توجه بوده است.

ایجاد گروه‌های تندرو در طول سال‌های گذشته، عمده‌ترین ابزار و اهرم فشار پاکستانی‌ها برای نیل به اهداف استراتیژیک وسیاست خارجی آن‌ها بوده است. این کشور با استفاده از موقعیت‌های مناسب جغرافیایی و ساختار نظام‌های قبایلی که در این کشور وجود دارد، تا حال به خوبی توانسته با پرورش شبکه‌های مختلف تندرو، منافع خود را تأمین کند؛ هرچند در موارد متعدد، مشاهده شده که این شبکه‌ها از اطاعت و فرمانبرداری پاکستان سر باز زده‌اند که به عنوان مثال، می‌توان به طالبان پاکستانی و همچنین در شرایط کنونی، طالبان افغانی به رهبری ملامحمد عمر اشاره کرد. در طول دهه‌های گذشته، پاکستان از گروه‌های مختلفی علیه مواضع خود در هند و افغانستان استفاده کرده است. لشکر طیبه، که شاخهٔ نظامی سازمان «الدعوه الارشاد» می‌باشد و بیشتر در کشمیر متمرکز است، عمده‌ترین ابزار پاکستان برای هدف قرار دادن هندوستان است.

سازمان "الدعوه الارشاد" در اواسط سال‌های ۱۹۸۰ ایجاد شد، تا از جهاد علیه نیروهای شوروی در افغانستان حمایت کند و خیرات و صدقات تهیه نماید. این سازمان بعداً به دو شاخه از هم جدا شد. لشکر طیبه، شاخهٔ نظامی سازمان است که در سال ۱۹۹۰ تاسیس شد و فعالیت‌های خود را در سال ۱۹۹۳ در کشمیر هند آغاز نمود.

این شاخهٔ نظامی بیشتر متوجه کشمیر هند است و آن‌ها طرفدار ایجاد خلافت در سرزمین‌هایی می‌باشند که از هند تا اسپانیا امتداد دارد و زمانی تحت ادارهٔ خلافت اسلامی قرار داشت.

متخصصان ضد تروریزم می‌گویند، لشکر طیبه از چهار طریق برای غرب خطرساز است:

اول از طریق پلان‌گذاری و حملات مستقیم، دوم از طریق فرستادن اعضای شبکه برای انجام حملات به سایر گروه‌ها به شمول شبکهٔ القاعده، سوم از طریق تهیه و تلقین تعلیمات مذهبی به غربی‌هایی که به پاکستان سفر می‌کنند و بعد به کشورهای‌شان برمی‌گردند و به حملات می‌پردازند و چهارم به حیث مدخل یا دروازه‌یی برای جذب بالقوهٔ آن‌هایی که برای جنگ در افغانستان یا یکجا شدن با القاعده به پاکستان سفر می‌کنند. گفته می‌شود که لشکر طیبه در هند سلول‌های خاموشی را ساخته و با مجاهدین هندی فعال کار می‌کنند.(۱)

این سازمان در سال ۲۰۰۸، یک سلسله حملات گستردهٔ تروریستی را در شهر بمبیی هند به راه انداخت و پس از آنکه مشخص شد، مسوول این حملات بوده، موجب تیره گی بیش از پیش روابط میان دو کشور گردید.

اما در شرایطی که لشکر طیبه مشغول برنامه‌ریزی و پلان‌گذاری برای هدف قرار دادن هندوستان است، گروه‌های مختلف طالبان پاکستان و افغانی، روی افغانستان متمرکز هستند و ناآرامی‌های دوامداری را در کشور، دامن می‌زنند.

گروه طالبان به رهبری ملامحمد عمر، گروه طالبان به رهبری جلال‌الدین حقانی، طالبان پاکستانی، حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار و... عمده‌ترین گروه‌هایی هستند که معمولا از طریق پاکستان حمایت می‌شوند و به این طریق، هم اهداف و منافع پاکستان و هم خواسته‌های خود را با برپا کردن ناآرامی‌ها در افغانستان، دنبال می‌کنند.

در این میان، به دنبال تغییر شرایط و اوضاع در پاکستان به خصوص حملات ارتش این کشور علیه مواضع طالبان و شورشیان ـ هرچند سمبولیک و نمایشی خطاب می‌شود ــ به نظر می‌رسد، برخی گروه‌های طالب به خصوص طالبان به رهبری ملا محمدعمر، دیگر چندان حرف‌شنوی از پاکستان ندارند و در صدد اتخاذ رویکردهای مستقلانه‌تر هستند. البته این مسأله به هیچ وجه، برای پاکستانی‌ها به خصوص سازمان استخبارات نظامی این کشور (آی. اس. آی) خوشایند به نظر نمی‌رسد و به همین دلیل، دستگیری‌ها و بازداشت‌های اخیر رهبران طالبان در پاکستان، نشانه‌یی از این نارضایتی به شمار می‌آید. نکتهٔ قابل یادآوری اینکه، هرچند طالبان همچنان با انجام حملات انتحاری و بمگذاری‌ها، عامل اصلی تداوم بی‌ثباتی‌ها در کشور هستند، اما این حملات بیشتر طبق پلان این گروه و نه آی. اس. آی، تدارک شده و عملی می‌گردد. اما نیاز است، تا پاکستان عوامل نفوذی و تحت سلطهٔ خود را برای پیشبرد برخی امور در افغانستان رویدست داشته باشد. از این‌رو، تحولات سال گذشته به این‌سو، به خصوص حملات تروریستی ماه‌های گذشته در کابل، نشان می‌دهد که پاکستان برای هدف قرار دادن برخی مواضع در افغانستان، دست به دامن گروه‌هایی غیر از طالبان شده است. به دنبال حملهٔ انتحاری روز ۷ حوت ۱۳۸۸ در مرکز شهر کابل که ۱۶ کشته و ۳۸ مجروح به جا گذاشت و هدف آن، دو مهمانخانهٔ مربوط به شهروندان هندی بود، ریاست امنیت ملی اعلام کرد که این حملات، کار لشکر طیبه بوده است. این در حالی است که به گفتهٔ مقام های امنیت ملی، مشابهت‌هایی میان حملات سال ۲۰۰۸ میلادی به سفارت هند در کابل و همچنین مهمان‌خانه‌یی در محلهٔ وزیر اکبرخان کابل در سال ۲۰۰۹ میلادی و حملهٔ اخیر وجود داشته است. در این میان، هرچند گروه طالبان در همان روز حادثه، مسوولیت این حمله را به دوش گرفت، اما مقام های امنیت ملی گفته‌اند که گروه طالبان افغان در این حمله دخالت مستقیم نداشته و این گروه تنها پس از وقوع این حادثه از این موضوع مطلع شده‌اند. با این وجود، از آنجایی که نقش لشکر طیبه در انجام حملات تروریستی در افغانستان برجسته شده به خصوص اینکه این حملات عمدتا علیه مواضع هندوستان بوده، به نظر می‌رسد، اتحاد و هماهنگی میان افغانستان و هند علیه پاکستان، وارد مرحلهٔ جدیدی شده است و مقام های هر دو کشور را بیش از پیش مصمم ساخته، تا علیه گروه‌های تروریستی که توسط پاکستان حمایت می‌شوند، به صورت جدی‌تر مبارزه کنند. به خصوص اینکه، در نتیجهٔ حملات سال ص۳

شفاخانهٔ ولایت غور در اعتراض به برخورد خشن پولیس مسدود شد

شفاخانهٔ ولایت غور، به دلیل استعفای داکتران شفاخانه و اعتراضی که آنها در مورد برخورد پولیس دارند، مسدود گردید. مسوولان بخش صحت این ولایت می گویند که در حال حاضر در این شفاخانه ۷۲ مریض بستر می باشند، اما هیچ یک از۱۴ داکتر شفاخانه، حاضر نیست که از آنها مراقبت نماید.

داکتر محمد عمرلعل زاد یکتن از داکتران بخش جراحی شفاخانه به آژانس خبری پژواک گفت که دروازه های شفاخانه، به روی مریضان مسدود است و هیچ کارمند این شفاخانه، حاضر به کار نمی باشد. وی در مورد علت این تصمیم کارمندان شفاخانه، گفت که افراد پولیس، همیشه داکتران را توهین می کنند.

موصوف گفت که دو روز قبل، یکتن از افسران قوماندانی امنیهٔ غور، به خاطر اجرای کار شخصی اداری خود، به شفاخانه مراجعه نمود. منبع در مورد چگونگی کار این افسر معلومات بیشتر نداد، اما گفت افسر یادشده، یکتن از داکتران داخله به نام محمد داوود را که به دلیل مصروفیت معاینهٔ مریض، به زودی در انجام کار وی اقدام نکرد، بعد از توهین و تهدید با خود برد و در قوماندانی امنیه برای نیم ساعت بندی نمود. به اساس ادعای وی، قبلاً نیز چندین بار نیروهای امنیتی، با داکتران برخورد نادرست نموده اند. موصوف افزود:

" تا زمانی که این قسم مشکلات، حل نشود و حیثیت و آبروی ما داکتران، تضمین نگردد، دیگه ما کاره شروع نمی کنیم. " داکتر جمعه گل یعقوبی رییس شفاخانه نیز می گوید که ۱۴ داکتر این شفاخانه، استعفای شانرا به ریاست صحت آن ولایت فرستاده اند. وی نیز بدون ارایهٔ معلومات بیشتر گفت که مؤظفین امنیتی، در اجرای کار های شان از زور کار می گیرند و داکتران را توهین و تهدید می کنند. به گفتهٔ وی، تا زمانی که این مشکل رفع نگردد، داکتران شفاخانه حاضر به انجام کار نخواهند شد.یعقوبی گفت که وی استعفا نداده و با مسوولان صحت عامهٔ ولایت و مسوولان امنیتی، در تماس است تا هرچه زودتر این مشکل حل گردد و دوباره این شفاخانه، به فعالیت آغاز نماید. داکتر غلام نبی یگانه رییس صحت غور نیز برخورد نادرست پولیس با داکتران را تائید نمود و نگرانی خود را مبنی بر مسدود بودن شفاخانه اظهارکرد.

وی نیز گفت که جهت رفع این معضله؛ با مقامات امنیتی، والی و مسوولان وزارت صحت عامه در مرکز تماس دارد و تلاش می کند که هرچه زودتر، این مشکل حل گردد. داکتر غلام سخی کارگر سخنگوی وزارت صحت عامه نیز می گوید: "متاسفانه که مسوولان امنیتی دراین ولایات، برخورد نادرستی با داکتران شفاخانهٔ ما انجام داده و ما خواهان بررسی این قضیه توسط موظفین امنیتی کشور، می باشیم."

به گفتهٔ وی؛ نباید مؤظفین امنیتی و اشخاص با نفوذ، در شفاخانه از زور کار گیرند. جنرال عبدالباقی نورستانی قوماندان امنیهٔ این ولایت درحالی که می گفت امکان ندارد که مؤظفین امنیتی، با داکتران شفاخانه برخورد نادرست کرده باشند، گفت که جهت روشن شدن قضیه، معاون کشفی قوماندان امنیه را توظیف نموده است. به گفتهٔ منبع؛ بعد از روشن شدن قضیه، با متخلفان برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۷۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادہ ورځپاڼه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com